# امریکاي اوښتون

۱۷۰۱-۱۷۹۱

# The American Revolution

1701-1791

برتانوي ښکېلاک نه تر خپلواکۍ پورې

ژباړه رشید خاطر

Download from: aghalibrary.com

## سریزه

په ولسمه پېړۍ کې د انګلستان او نورو اروپاي هېوادونو خلک د انتلانتک په سمنر پورې وتل او د امریکه په خورو ورو، پراخه، زرخېزه او شتمنو ډاګو یې قبضې واچولې. که د برتانیا خلکو د امریکا(متحده ایالات) شاړې ځمکې رالاندې کړې نو هم دغسې فرانس، اسپانیا او نورو اروپاي هېوادونو د امریکاي وچې نورې ګېرچاپېره سیمې د ولکې لاندې راوستې. د امریکا وچه د انتلانتک سمندر لوېدیځې غاړې تا پرته ده او د اروپا نه په زرهاو میله لرې ده. دا نه چې دا خلک یواځې امریکا تا پورې اوښتې و بلکې ددې نه ډېرو ډېرتا او لرې اوېجو تا هم تللې و. افریقه د اروپا په ګاونډ که پراته ده او تګ را تګ ورته ډېر ګران نه دی، د اروپا دا مېړنی خلک د نړۍ هرګوټ تا رسېدلې او تر لرې لرې پورې یې خپل تهذ یب خور کړی دی. د امریکا او افریکا د ځنګلې تهذ یبونو نه واخلې تر هندو کش، تورغر(توره ډاکه) ، هند او د لرې اسیا د تورو ټاپوګانو پورې غځېدلې او دغته تر پېړیو پېړیو پورې مېشت پاتې شوي دي. که تاسو ددې خلکو مقبرو تا لاړشۍ نو اوبه وینی چې دا خلک په کومو کومو علاقو کې جنګېدلې او مړه شوي دي. ددې خلکو د جنګونو نه افغانان، پورې راپورې، د هرچا نه ښه خبر دي. دویې د خېبر د دنګو دنګو غرونو په سرونو هم جنګېدلې دي او د ملاکنډ او تورغر په ژورو او یرونکو کو درو کې هم.

ددې دومره غېر معمولي بهادرۍ او مړانې شاته یواځې ددې خلکو د مخکې تلو جذبه او شعور و. د افغانو تاریخ هم په خپل وخت د دغسې مړانو نه ډک پروت دی. افغانانو خپل حرکت هاغه وخت شورو کړی و کله چې اروپاي خلک پاتې ملتونه و. دویی په ولسمه پېړۍ کې بهر دنیا تا وتلې و. ددې نه ډېر اګاهو تر شپاړسمه پېړۍ پورې هند د افغانانو د ښکېلاک لاندې و. په کال ۱۵۲۵ کې د هند اخري افغان واکمن ابراهیم لودي د مغلو سره په جنګ کې مړ شو او دغسې د افغانانو وړومبۍ امپراتوري تمامه شوه. دا امپراتوري یا د هند واکمني د سل هاو کالو نه د افغانانو سره وه. که د اروپا خلکو په ولسمه پېړۍ کې امپراتورۍ رغولې وې نو افغانانو په پنځلسمه پېړۍ هند ولکه کړی و.خو ددې خبرې دا مانا او مراد نه دی چې ګنې افغانان دې بیا داسې کولو تا اوو هڅولی شي، امپراتوري پردی کټ دی، خو خپل ملي ځان خبرې اړینه ده. تاریخ پرستې د یو ملت د خیز او ترقی د ټولو نه غټ دښمن دی خو تاریخ هېرول هم نه دي پکار. تاریخ د زدکړې دپاره وي. د پخوا غوندې اوس هم افغانان د ملي جذبې نه سرشاره دي خو دې خبرې تا اړتیا ده چې دا ملي اغونځه د هېواد او ملت د ودانښت او پرمختګ دپاره په کار رااوستلې شي. د افغانانو په تاریخ کې د ملامتیا ټکی نشته خو په نن زمانه کې پسماندګي او جهالت د ملامتیا ټکي ګڼلي کېږي. په دې خبره هم بد ګڼل نه دي پکار چې په تهذ یبي توګه عربان د اسیا د ټولو نه وروستو او پاتې ولس دی او د بده مرغه افغانان د عربو نه هم زیات وروستو پاتې شوی ملت دی داسې اوګڼه چې افغانستان د اسیا په زړه کې یو افریکاي هېواد پروت دی.

امریکاي اوښتون د انسان د ترقۍ یو بې بها سرچینه ده. د هر دویو کسانو او دغسې د ډېرو وګړو ترمینځه اختلاف رای کېدی شي خو د خبرو اترو په لار دغه اختلاف ختمېدی شي او انسان د ترقۍ امکانات تر لاسه کولی شي. د امریکایي اوښتون پر وخت خواندګي د نشت برابر وه خو بیا هم دغه ملت خپلو مزهبي، سیاسي او معاشي مسلو باندې کابو او موندو او د خوشالۍ او ترقۍ په لار روان شول. هاغه هاورډ پوهنتون چې یو څو شاګردانو به پکې زده کړه کوله نن د نړۍ د ټولو نه ستره پوهنیزه اداره ده.

اوس هم وخت تېر نه دی او د داسې کولو ډېر روښانه امکانات مخکې پراته دي خو دا هله ممکنه ده چې افغانان خپل زور د جنګ جګړو نه ملي ترقۍ پلو تا را اوګرزوي.

*******

Download from: aghalibrary.com

# ښکېلاکګر

د کال ۱۷۰۷ او ۱۷۷۵ تر مينځه يو لک پنځه څلوېښت زره سکاټس( د سکاټ لېنډ خلک) امريکا تا لاړل او د انتلانتک سمندر په غاړه پرتو کالونو کې اباد شول. هم په دغه وخت کې د المان- جرمن څه سل زره خلک پورې وتل او په دغه کالونو کې ځای پر ځای شول. دا الماني خلک د کار روزګارپه لټون پسې وتلي و اويا د جنګونو او ګروهي دښمنو له کبله کډه وال شوي و. د برتانيا خلک امريکا تلو تا ډېر لېواله نه و خو د نياوځي ـ عدالتي  امر له مخه پنځوس زره بنديان اولېږلی شول او د تماکود ځمکو کرکرونده وريږغاړه کړې شوه. دا خلک به غلامان ګڼلی شو او د دويی په سزاګانو کې دورې وهل هم و. کوم برتانوي نيواکګر چې په ۱۶۰۰ کې دغلته اباد شوي و هغوی د سکاټسو او المانيانو په راتګ خوشاله و ځکه چې دې خلکو به ددغه نيواکګرو په ځمکو کې د کرهني کسب کولو او هم د هنديانو، فرانسيانو او اسپانانو د برېدونو مخ نيوی. خو ځني فيرنګي اباد کار ددې خلکو د راتګ په وجه د انګريزي کلتور د ککړتيا غم هم اوړيول.

د سپين پوستو ابادي  د کال ۱۷۰۰ نه تر ۱۷۵۵ پورې د دريو لکو نه پنځلس لکو تا اورسېده. په دې سپين مخو کې د انګرېزانو ابادي دري دېرش زره (۱۶۰۰) نه اوويو۷ لکو(۱۷۸۰) تا اورسېده. دا ټول نېغ په نېغه د هاغه انګرېزانو اولاد و کوم چې په شپاړسمه پېړۍ کې راغلي و. د سپين پوستو د ابادۍ سره سره هم په دغه کلونو کې د مرايانو ابادي د پنځويښتو زرو نه پنځو لکو او ۱۷۷۵ کې شپږو لکو تا اوغځېده. يو لسيزه وروستو د افريکاي غلامانو رااوستل او خرڅول دومره زيات شول چې د انګرېزي سزاوړو- سزايافته خلکو ابادي يې وروستو پرېخوده. په جنوبي کالونو کې د غلامانو شمېره په سلو کې دوه وه او د پېړۍ تر نيمايی پورې د چېساپيکي سمندري غاړو ګېرچاپېره د غلامانو سرشمېرنه په سلو کې څلوېښت رسېدلي وه. د کېرولينا ابادي هم د غلامانو د غلبي لاندې راغلي وه. دغه افريکاي غلامانو به د کر کرهني کسب کولو او د دويی د ځارني دنده مالکانو د سمندر پورې سپين پوستو په غاړه اچولی وه. په کېرولينا کې به د ځمکو مالکان بهر اوسېدل ځکه چې دغلته سړه لړې- ملېريا تبه يو ټوليزه- عامه وبا وه او له کبله يې د وژني شمېره زياته وه. په چارلس سيمه کې د تورپوستو او سپين پوستو ګډه ابادي اوزېږده ځکه چې زياتره سپينو سړو به د تورو افريقاي ښځو سره ودونه کول. په دغه چارلس ښارګوټي کې د افريکايانو سرشمېره د نيمې نه ورتېره وه. دې خلکو به د سپين پوستو په کورونو کې کارونه کول، د لاسو ځيزونه جوړول او يا به يې په ډوک( سمندري ګودر) کې روزګار کولو. خو په دغه تورپوستو کې ځني خلک داسې هم و چې د مرييوالي د جغ نه ورهولي- ازاد و او په خپله خوښه بې کارونه کول.

چرته چرته چې د افريکايانو ابادي د سپينو په پرتله زياته وه نو  هلته د امن و امان ستونزې زياتې وې. اروپاي کډوالو به دغه تورپوستو خلکو باندې ټينګ نظر ساتلو او دويی يې نزدې نزدې د ټولو انساني ربنتو نه بې برخې کړي و. خو په نوي انګلستان کې چرته چې د تورپوستو ابادي ډېره لږه وه هلته دوی تا د تولوالی- ملکيت د لېږد او خرڅولو اجازه وه او د دوی – قانون په نظر کې د سپين پوستو سره يو برابر و. سپين پوستو به دا سوچ کولو چې مونږ او دويی د اره د يو نيکه اولاد يو او ازادي زمونږ غونډې د دويی هم ازلي برخه ده خو ښکاره خبره ده چې په دې ازلي ازادو کې د مرييواله نه د ازادۍ  او خپلواکی خبره نه وه شامله. په نوي انګلستان کې به زياتره تورو خلکو به د کرکرهني کسب کولو خو په پنسلوېنيا اونيو جرسي کې به يې د اوسپنو بټو کې کارونه کول.

اوس اوس چې د تورپوستو کوم کنډ کونه په نيلام کې  اغستلي شوي و په هغوی کې زياتره د خپلو مالکانو نه  تښتېدلي و او يا د تښتېدو په تکل کې و. د تېښتې په دې بهير کې د غلامانو ځني ډلو خپل مالکان هم اووژل ځکه چې دا تورپوستي ډلې ډلې اوسېدل او هم دغه ډليزې اوسېدني به دويی داسې کولو تا لمسول. ددې اکر(صورت حال) له مخه د اسپانيا سرکار په کال ۱۷۳۳ کې افريکاي خلکو تا د پنا ورکولو ورمند – فرمان  خپور کړو او ددغه ورمند له مخه به دغه تښتېدلو خلکو د اسپانيا کالونی فلوراډا تا پنا راوړله. په کال ۱۷۳۸ کې د اسپانيا دولت ددغه راتښتېدلو مريانو نه ملېشا يا لښکر اورغولو.

Download from: aghalibrary.com

بنجمن فرانکلن چې په فلادلفیا کې یې ژوند کولو او د غلامانو ساتونکی و، د مریانو د کړو وړو په بابله لیکي چې په دویی کې لږ خلک اورېدونکي او د ښه خوی څښتنان و خو زیات غلامان بد خویه، باندره – سازشیان، کبرژن او د غچ د اغونځو نه ډک و.

## عیسایت

امریکا تا د اروپا نه راغلو خلکو ځان سره د وروړگلوی او روحاني خپلواکۍ ارزښتونه – قدرونه راوړي و. ددغه دیني اغونځي- جزبې لاندې دویی غلامان خپل دین پلو تا راړول غوښتل. ډېرو سپین پوستو د داسي کولو ناباندی – مخالفت اوکړو او دا دلیل یې راوړو چې داسي کولو سره به غلامان د خپلواکۍ غوښتني شورو کړي.

په دغه عیساي تبلېغیانو کي څه خلک پخپله هم غلامبه ( غلامان ساتلو واله) و خو په کال ۱۷۳۰ کې ځني تبلیغیانو د مرییوالي پر زد غږ پورته کړو او مرییواله یې او ننګوله – چېلنج کړه. د پروتستنت عیساي دوستانو ټولنه د نوابادکارو د عیساي چرج او اینګلیکن نه وروستو دریمه غټه مزهبي ډله وه. عیساي دوستان د غال – تشدد، سخت کار او غېر انساني سلوک بلوده – مخالف و. د ځني دا رای وه چې کوم کارونه سپین پوستي د تورپوستو په وسیله کوي دا دویی له پخپله کول پکار دي. او دا تبلیغ به یې کولو چې د خدای د هدایت نه ګټي پورته کولو دپاره د سپین پوستو غوندې افریکایان هم جوګه دي. په کال ۱۷۵۸ کې د عیساي دوستانو ټولني یو غړي جان وولمین د ټولو کالونو دوره اوکړه او د مرییواله پرزد یې ځرګندوني اوکړې. عیساي دوستانو ټولني په ځان باندې د غلامانو ساتلو یا باپار کولو پابندي اولګوله. دویی د هندیانو د مریتوب هم ناباندی اوکړو او لوېدیځي پنسلوېنیا پلو تا یې د هندیانو د ابادۍ غځېدلو ناباندی- مخالفت هم اوکړو. د دوستانو ټولنه په ختیزه پنسلوېنیا کي په ډېرښت کي وه او هغوی نه غوښتل چې هندیانو سره خپلې دوستانه اړیکي خرابي کړي د کومو بنیاد چې ولیم پېن ایخودی و.

د کالونو زیادتره ازادو خلکو به د تورات تلاوت کولو او د هرچا په کورکي به تورات پروت و. ددې نه سربېره به د نورو ساده سوده دیني کتابونو لوسته کېده او دین پوهانو او عیساي خانتوره خلکو به لرغونه کتابونه لوستل. د دغه زماني د اروپا او په کالونو کي د اروپاي خلکو ترمنځه د تورات د آیتونو بیل بیل ژند او پاژند- تشریح روانه وه. ددې پاژند په دوران کي د سولیزوالو – عقلیت پسندو او دینپالو دوه غټې ډلې را مینځته شوې. سولیزوالي ډلې به سول او عقل اهم انګېرلو او دا دلیل یې راوړو چې د پنځ لارو یا فطرتي قوانینو د مالومولو، پېژندني او رابرسېره کولو دپاره عقل یواځنۍ وسیله ده. دې ډلې خلکو به اندیالو- دانشورانو تا ډېر اهمیت او درناوی ورکولو. د بنسټپالو د یرونکي او سزا ورکونکي خدای پرزد ددې خلکو دا خیال و چې خدای یو مهربانه او بښونکي هستي ده او د انسان په نېکو او سپېڅلو اعمالو یا کړنو باندې هغه تا د میني او بښني توښه ورکوي. دینپالو به په ښکاره پرښتښ زور راوړلو او دا ګیله به یې کوله چې خلک دین تا ډېر پام نه ورکوي. د دینوالو په دودیزه – روایاتو کې د دویم ژوند یا بیا ژوند او ستري بېداری خبره هم شامله وه کومه بېداري چې په کال ۱۷۲۰ کې نیو جرسي او پنسلوېنیا کې راغلې وه. په کال ۱۷۳۰ کې د ماساچوست په کالونی کې ستري دیني بېداری بیا سر اووهلو. په دغه کالونی کې په دغه کال په زرهاو خلک راغونډ شول چې د انګلستان نه راغلی دیني عالم وایت فیلد درس واوري او کرامات یې اووېني.

د عقلیت پسندو د مخنیوي دپاره بنسټپالو پولو پټو تا مخه کړه چې دغه ټولیزه، ساده سوده خلک خپل ملګري کړي او دغسي د سولیز والو او لوستو دیني خلکو لاراونیسي او اجاره داري یې د منځه یوسي. په دې باندې روښانده مزهبي او شتمنو خلکو بد اوګڼل او دا یې د ټولیزه خلکو له اړخه ګواښ اوانګېرلو. دغه لوستو خلکو دا بنسټپاله ډله زوږګره او د ټولني دپاره لمبه ژنه ګرزوله ځکه چې دویی به هروخت په هره کوڅه کي ولاړ و او دیني مسلي به یې کولې.

د دینپالو یا بنسټپالو دا هڅي بې ځایه نه وې او اغېزه یې اوښودله. په کال ۱۷۵۸کې د غلامانو یوه ستره مزهبي غونده اوشوه چې دغسي دویی عیسایت خپل کړي. د غلامانو مخي تا غټ مرام او ټاپی دا و چې د عیساي مزهب او حضرت عیسیٰ په وسیله ځان د مرییوالي نه ازاد کړي څنګه چې یسوع مسیح یهود د غلامی نه ایله کړي و.

Download from: aghalibrary.com

## سوکالي(Prosperity)

کالونی ورځ تر ورځه مخ په ترقۍ رواني وې او رزمنیزه اکر- معاشي حالات  په ښه کېدو و. ددې نوي رزمنیزه اکر له مخه یو ډول خلک داسي رامنځته شول چې د کسب نه لاس واخلي او د سپین روبی ژوند خپل کړي. په دغه خلکو کې یو بنجمن فرنکلن و چې هغه د دوه څلوېښتو کالو په منګ،  کال ۱۷۴۸ کې خپل د چاپ خاني کار پرېخودو او خانتوره ډول ژوند یې خپل کړو خو بیا هم هغه د نومپالني اوړی نه و او نه به یې د کسب کولو نه کرکه کوله. هغه به کاروباریان او باپاریان د ځمکوالو غونډې یو برابر او درانه انګېرلو.د فرنکلن د شتمنی سبب د هغه کتاب ( د بې وزله رچرډ کالښود) و چې د تورات نه وروستو ډېر خرڅېدو. په یو کال کې به ددې کتاب لس زره ګڼې خرڅېدې. دا کتاب بنجمن په کال ۱۷۳۳ کې په وړومبي وار چاپ کړی و. دا لیکوال د ساینس د ودې او پرمختګ ډېر ارماني و. د ځوانۍ په وخت کې هغه چرج تا تګ راتګ پرېخودی و او خپل کور کې به یې لوسته کوله.

په کالونو کې د ښادمنۍ او سوکالۍ غټ سبب کرکیله، لاسیز هنر او ونجون – تجارت و. ددې نه سربېره اوسپنیزې کارخاني، د شرابو تجارت، د سمندري بېړو رغونه، د بېړو د سامانونو باپار،د ځناورو د پوستو او نورو شیانو او د کبانو تجارت هم یو مخې په بره روان و. خو د کالونو د ترقۍ او ودې ټول داورمدار په کر کرهنه باندې و چې شولې، غنم، جوار، تماکو او بنګ وتلي او ګټه ور کښتونه و. جنوبي کالونو کې کرنیز ونډونه - زرعي فارمونه واړه واړه و. شمالي کېرولینا په ټولو دیارلسو کالونو کې د ټولونه شتمنه کالوني وه چې د امدن او ګټې غټه وسیله یې شولګرې ځمکې وې. دغسې ورجینیا د تماکو په کښت کې مخکې وه خو د نورو کښتونو په نسبت د تماکو کرنه او پالنه ګرانه وه او ډېرو مریی کرګرو تا یې اړتیا درلودله.

ددغو کالونو د یو مخې پرمختګ له کبله د پانګونې ستونزه را پېښه شو او دا اندېښنه پیدا شو چې دا مسله څنګه هواره کړی شي. ددې مسلې هوارې هم ددغو کالونو په شتمنو، قدرتي وسیلو او تجارت کې پټ و. د کالونو په ولکه کې ارتې او پراخه ځکې وې چې د پنځې هوبلو او وسیلو نه برجغې پراتې وې. بل پلو تا ټېکسونه کم و او دا چې د الماني او انګریزي کالونګرو ترمینځه ونجون او تجارت ښه مخ په خیز و. په دغه زمانه کې په کالونو کې سرې سر ګټه د اروپاې ملتونو په نسبت زیاته وه. ورو ورو دا شتمني په ښکارېدو شوې او د لارو کوڅو، کلو او ښارونو انځورونه په بدلېدو شو. نوې نوې دوه پوړیزه درې پوړیزه ودانی جوړې شوې او ځنې ډېرو شتمنو خلکو پکې د لرګو پرتمنې ودانی هم اورغولې چې دننه ډول سنګار یې رنګونو سره شوی و. په نیو انګلستان کې دغه ودانی زیاتره د خښتو وې او پېنسلوانیا کې د تیرو نه جوړې وی.

په جنوبي ښارونو کې مخکې خلک باپاریان، وکیلان او سرکاري کارمندان و. دوکانداران او هنرمندان ورپسې لوی او شتمن خلک و. ددغو ښارونو نزدې نیمه اباديې بې ځمکې وه او په دویۍ کې هاغه خلک هم و چې اوس اوس د اروپا نه په کډه راغلي و. د باج یادښت یا ټېکسونو ریکارد دا ښاي چې په سلو کې دېرشو کسانو سره هیڅ نه و او په سلو کې لسو کسانو سره په سلو کې شپېته برخې دولت و. مالداره یا شتمنو خلکو او د چرچ لوړپوړه کارمندانو دا انګېرله چې دا بې وسیلو خلک د دویۍ دپاره تلاوې- خطر دی. کوم خلک چې بې وسیلو و نو په هغوی د ټولنې په سیاسي ژوند کې په برخه اغستو پابندي وه .

شتمن خلک خپل ښه ژوند، ښو ودانو او لوخو لرګو باندې ډېر غاوره و او دا دعوی به یې کوله چې د دویۍ ددې ښه ژوند لامل د دویۍ زیار- محنت  او د خدای مهرباني ده. ځمکوالو خلکو به خپلو کې سره ناستی پاستی کولې او ټولیزه- عام خلک به یې خپل منځته نه پرېخودل ځکه چې د دویۍ خبري اتری، کړه وړه او ناستی پاستی بې ډوله او نادودیزه و.

په دغو کالونو کې یو ډله خلک داسي و چې هغوی د ډول سنګار، مزو چرچو او ننداړو خلاف و. بنجمن فرنکلن د هاورډ شاګردانو باندې د هغوی په نشو تماشو، غله غولتی او بېکارۍ سخته ګوتنیونه کوله. دینواله خلک د کارکولو د ټکي سره ننښتي و او د شاګردانو په ابس ګرزېدو، د هغوی د ښه ګریو په سیالیو، سندرو، نڅا او نورو کړنو نه سخت بېزاره و.

Download from: aghalibrary.com

د سکاټ لېند او المان خلک چې لوېدیزو سیمو کې د هندیانو سره په ګاونډ کې اباد و، د سخت زیار کولو کاهل و. هغوئ به دا کریان کولو چې هندیان د دویی په ځمکو کې د زړه نه کار نه کوي او ډېرې ځمکې شاړې پراتې دي. داسې کول هغوئ د خدای او پنځې لارو یا قوانینو پرزد ګڼلو.

## زده کړه

د کالونو په لوېدیزو پولو د سکاټ لېند او ارلیند خلک اباد و چې په واړو واړو کورونو کې اوسېدل. دې خلکو غوښتل چې د دویی بچې زده کړه اوکې. په دې ابادئ کې شتمنو خلکو د خپلو بچو دپاره استادان په باره نیسل او یا یې د زدکړې دپاره انګلستان تا لېږل. په فېلادلفیا کې د ژبپوهنې، شمېرپوهنې او پنځپوهنې درس په نجي پوهنځو کې ورکولی شو. دا نجي سکولونه خپلواکه و او د مزهب سره یې هیڅ ډول اړیکه نه درلوده. دغلته د دینپالو دیني مدرسې هم وې چې خپلو ماشومانو تا بې یې پکې زاړې ژبې، تاریخ او ادب ښودلو. دا سکولونه د بې وزله ماشومانو دپاره بې باړې- فرې و خو شتمنو خلکو به باړه ورکوله. جرمنیانو په فېلادلفیا کې خپلو ماشومانو تا لوستل او لیکل په خپلو کورونو کې ښودل او یا به یې واړه د چرچ سکولونو تا لېږل. د دغه کالونی د شتمنو کورنو جونو به په سکولونو کې فرانسي ژبه، سازګرې، انځورګرې، نڅا او سندرې زده کولې. د نوې انګلستان په پوریتان سیمه کې به جینکو د کور د سمبالښت زدکړه کوله او یا به یې لوستل لیکل زده کول. د کال ۱۷۷۰ په خواوشا کې په ګرانه دغلته یو څو ښځو خپل نوم لیکلی شو.

ورو ورو د زدهکړې سره د خلکو روې د ژوند او هم ناروغو پلو تا بدلې شوې. د دماغو رنځونه چې پخوا به پېریان او ښاپېران ګڼلی شول اوس بدني ناروغتیا او ناسمتیا ګڼلی کېږي. دوکتورانو ورو ورو د دمګرو ځای واغستو خو له اوس هم دوکتوران د پوهې د بشپړې رڼا نه لرې و. نه یې رنځونه سهې سهې مالومولی شو او نه یې په درملنه په پوره توګه لاس وراوښتی و.

د کال ۱۷۷۰ پورې په کالونو کې اوودېرش ورځپاڼې، /وویو۷ کالجونه او څلورنیم زره کالج پاس ځوانان و.

### د پلارني هېواد سره دغره

باچا او پارلیمان(جرګه) دواړو د کالونونه دا تمه لرله چې د برتانوي قانون درناوی اوکې او د خپل پلارني هېواد دریځ په نړیواله کچه لوړ کړي. دا تمه یې هم لرله چې کالونئ کچه مواد ورکړي او د برتانیا رغولي څېزونه واخلي او یا هاغه تیار شیان واخلي کوم چې د برتانیا نه تېرېږي او یا برتانوي بېړو کې لېږدولی کېږي.

د پلارني هېواد مالي ښېګړې دپاره د وړئ ایکټ پاس کړی شو. ددې ایکټ لاندې په کالونو باندې د وړئ او وړینو څېزونو رغولو او خرڅولو بندېز اولګولی شو. د بل قانون له مخه یې د پین لرګي کارول بند کړل چې دا لرګي به یواځې برتانوي سمندري ځواک په خپلو بېړو کې د دوک دپاره په کار راولې. د شرابو جوړولو دپاره به چې د فرانس او وېسټ اندیز نه کوم ګړوبی( د ګني شربت) راغوښتلی شو د هغې ګاټ - محصول زیات کړی شو خو بیا هم د کالونو خلکو په یوه او یا په بله لار سر اېستلو.

د پلارګني هېواد ددې بندېزونو په غبرګون کې په کالونو کې په خپل ځان پخپله د واک کولو احساس غځوني اوکړې. وخت تېرېدو سره سره دې اندونو او سوچونو درنښت او پایښت موندلو. د هاغه وخت د برتانیا وزیراعظم رابرت والپول د کالونو ددې سیاسي خیال مرسته اوکړه. د هغه دا خیال و چې د کالونو پر ځای د اروپا سیاست تا زیات پام ورکول پکار دي. د وزیراعظم دې پالسی تا د- ګټوره بې خبرې- نوم ورکړی شو. ددې حالاتو له مخه په ټولو کالونو کې ټاکلي- منتخب شوې جرګې په وجود کې راغلې. ددې جر ګو د غړو چوڼ به د ټاکنو په لار کېدو او هرهاغه چاتا د رای ورکولو حق حاصل و د چا چې څه نا څه خپله ځمکه وه. د کالونو د امن وامان، ټېکسونو، د ټولیزه ښمریز کارونو، زدکړې او دارو درملو ټولې ذمه واری د جرګې په غاړه وی.

Download from: aghalibrary.com

کالونګرو د کالونو واکمنی او ددې آيين يې د برتانوي سياسي جوړښت هنداره اوانګېرله. د دويی دا خيال و چې د برتانيا آيين د نړۍ د ټولو نه ښه او ازماييلی شوی قانون دی ځکه چې ددې آيين له مخه د ملوکيت، خانتوره او ټوليزه خلکو ترمنځه د رښتو برابر وېش شوی دی. ددې سياسي پرمختګ له مخه ځنې خلکو ځان ازاد او خپلواکه اوانګېرلو او څه خلکو اوس هم د مخکې پشان د باچا سلامت درناوی راوړو. د انګلستان په کالونو کې مېشت سکاټس، ارش، جرمن او فرانسي خلکو په باچا جارج دويم باندې نه ترله او نه پرانستله تردې پورې چې جرمنيان هم لاپروا و ګواکې جارج دويم د اصل نسل نه الماني و او تر اوسه پورې به يې په الماني ژبه خبرې کولې.

## باج او نورې شخړې

د فرانس او برتانيا ترمنځه اوويو۷ کلن جنګ (۶۳-۱۷۵۵) تا د کالونو خلکو د – فرانس او هند – جنګ نوم ورکړو. د کالونو د خلکو نه پلارني هېواد د کالونو د ټولو خواته د څه غوشک راپېښېدو په وخت د ملاتړ تمه لرله ځکه چې داسې څه کول د دواړو په مفاد کې و. خو بيا هم دا جنګ پلارني هېواد په خپل سر اوکړو او د کالونو لږو خلکو پکې ګډون او درلودو۶ چې په دغه ګډون والو کې يو شل کلن ځوان مېجر جارج واشنګټن هم و.

د جنګ په دوران کې پلارني هېواد تا ګرچې د کالونو پوځي کومک اړتيا وه خو بيا هم د دويی نه د پوځ غوښتلو پر ځای يې د غلو دانو او نورو خوراکي موادو غوښتنه اوکړه. ددې نه سربېره کالونو تا دا هم اوويلې شو چې په دښمنو هېوادونو به خوراکي مواد او نور شيان نه خرڅوی. خو بيا هم دويی به په فرانسيا او اسپانيا باندې په لوړو نرخونوغلې دانې خرڅولی چې دغسې دا هېوادونه د کيريبين په ټاپوګانو کې مېشتو غلامانو تا د خوړنې اکر ښه او خوندې کړي.

دې اوويو کلن جنګ انګلستان په مالي توګه ډېر اوزېلو او دې تا يې اړباسلو چې د جنګ بندۍ دپاره خبرې اترې اوکړي. د خبرو اترو په نتيجه کې جنګ په کال ۱۷۶۳ کې د برتانيا په ګټه تمام شو. د کيريبين يو څو ټاپوګانو او د سېنټ لارنس سيند نه سربېره فرانس ټوله امريکه د لاسه ورکړه. د برتانيا بريالی پوځ په کالونو کې پاتې شو. په دغه لښکرو باندې د دباو کمولو دپاره برتانوي سرکار د سپين پوستو او هنديانو ابادۍ د يوبل نه بېللو دپاره په کال ۱۷۶۳ کې دا پرېکړه اوکړه چې ابادکار به خپلې ولکې د سرحدي غرونو نه پورې پلو تا نه غځوي. کالونګرو دا پرېکړه اوغندله خو څه سم د لاسه غبرګون يې اونه ښودلو. برتانوي سرکار د ټولو نه د پوځ لرې کولو اراده لرله خو داسې کول سودمن نه و.

د جنګ د ختمېدو نه وروستو برتانوي سرکار خپل پام مالي مسلو پلو تا رااوګرزولو چې دغسې جنګي مالي زيانونه را سر کړي. په دې لړ کې وړومبي ګوزار په کالونو اوشو او کالونګرو تا اوويلی شو چې تاسو به د پلارني هېواد تناسب سره باج ورکوی. دې پرېکړې سره په کالونو کې اړودوړ پيل شو چې په شا يې د کرانده ځوانانو وسله وال ځواک هم و چې د- خپلواکۍ ځامن- نومېدو. ددې الوګولو نه برتانوي سرکار اوېرېدو او څه ټېکسونه يې واپس واغستو. خو دا څرګندونه يې اوکړه چې کالونی او د کالونو کرکرونده د تاج برتانيا او برتانوي پارليمان د سامراجي واک لاندې دي.په دې باندې د کالونو خلک خوښ نه و او هغوی دا هرڅه په ځان جبراو ګڼلو.

په کال ۱۷۷۰ کې برتانوي سرکار د ايسټ انډيا (هندوستان) کمپنۍ د مالي اکر ښه کولو په لړ کې دا پرېکړه اوکړه چې کمپني دې د چايو پاڼي نېغ په نېغه او ټيټو نرخونو کالونو کې خرڅوي چې دغسې د کمپنۍ مالي سټه توانه شي. ددې په غبرګون کې د کالونو د چايو باپاريان راپاسېدل او په کال ۱۷۷۳ کې د بوسټن په سمندري ګودر کې يې د کمپنۍ د چايو څلورنيم سوه پېټۍ په اوبو لاهو کړې. دا پېښه اروپاي تاريخ د- چايو پارټي- په نوم سره يادوي. ددې نه سربېره د انتلانتک په غاړه ابادو خلکو د کمپنۍ د چايو اغستو نه مخ واړولو. پلارني هېواد ددې سرغړونې او دوی ماتونې د جواب ورکولو پرېکړه اوکړه. د برتانيا باچا جارج دريم په سپينو ټکو کې اووې چې يا به دا ياغيان وي او يا به زه يم. په دې وخت کې د باچا د واکمنۍ ديارلسم کال و. د باچا کارمندانو د بوسټن ګودر اوتړلو او د ماساچوسټ والي اختيارات يې پراخه کړل. د ماساچوسټ په ښارلې ټاکنو، غونډو يې بنديز اولګولو او دا ورمند- حکم يې اوکړو چې د بوسټن په ګودر د پرتو چايو ادايګي دې اوکړی شي.

Download from: aghalibrary.com

د بوستن د گودر ترلو مانا د ددغه سیمي رزمینه- معاش تبا کول و. د باچا سلامت دې گام پورته کولو سره د پاتي ځوارلسو کالونو وګړو دا اوانګېرله چې پلارني هېواد کوم سلوک نن د ماساچوست سره کوي نو کېدی شي چې دغه حال سبا زمونږ هم وي او هم ددې سوچ لاندې دغو کالونو بوستن تا پیسې او خوراکې راماتې کړې.

ددې حالاتو له مخه د کالونو مخوره او وتلو خلکو ترمنځه لیک لیکانې شورو شو چې نچوړ یې دا رااوواتو چې په فلادلفیا کې به یو ستره جرګه رابللې کېږي. په کال ۱۷۷۴ کې د جارجیا نه سربېره ټولو کالونو خپل استازي د جرګې دپاره خوښ کړل. کاناډا تا هم بلنه ورکړی شو خو هغوی جرګې تا رانغلل.

په ستمبر کې جرګه اوشوه چې د- *امریکاي وچې وروملي غونډه-* په نوم سره یاده شوه. جارج واشنګتن، جان ادم، سماول ادم او پترک هنري د غونډې ګډون وال و. دې جرګې پلارني هېواد سره تجارت نه کولو مرسته اوکړه او د مخ اړوني او سرغړوني د پوخنده کولو او ساتلو دپاره یې په ټولو کالونو کې ډلګې جوړې کړې.

د- رښتو او ناخوالو- د سرلیک لاندې یو پایځوړه لاسوند د اکتوبر میاشت کې لاس لیک کړی شو. په دې لاسوند یا دستاویز کې د برتانوي پارلیمان ددې پرېکړې په هکله شکایت شوی و چې د امریکا د خلکو د ځان سره ساتلو اختیار حق یا رښته سره د واړه قوانینو، د پارلیمان سره دی. جرګې دا اولیکل چې دا قوانین ناسم دي اود دې منلو تا د امریکا خلک تیار نه دي. د پارلیمان ددې پرېکړې د بېرته اغستو دپاره جرګې نېغ په نېغه باچا او ولس تا غږ اوکړو.

## د لژنګتن نه تر روغې جوړې پورې

د مرګ ژوبلې مخنیوي او د اوښتونوالو نه وسلې او بارود راغونډولو دپاره پلارني هېواد دوه زره پوځ د بوستن نه شپږرویشت میله لرې جنوب ختیځ کې د کنکارد کلي تا روان کړو چرته چې سرکښو خپلې وسلې خوندي کړې وی. څنګه چې پوځ د کنکارد پلو تا مارچ پیل کړو نو د شپې په وخت انقلابي غړي پال راوری او د هغه سپاره ملګري کور پر کور اوګرزېدل او د خپل سازمان ملګري- منت مېن - یې خبرکړل. منت مېن د امریکاي ځوانانو وسله وال غورځنګ و چې د خپلواکی دپاره یې هلې ځلې کولې.

د کنکارد نه لسو میلو په واټن لژنګتن کلي کې سورپوښ(په کالونو کې دا د برتانوي پوځ نوم و) د منت مېن د غړو سره مخامخ شو چې د سلو نه زیات او وسله په لاس و. د سورپوښ کماندر کالونګرو تا د خورېدو غږ ورکړو او هم په دغه وخت کې چا د تیرو د ډېوال شا نه ګولۍ اوچلوله. دې سره د دواړو غاړو نه ډزې شورو شوې او له کبله یې اته سورپوښ مړه او لس ژوبل شو.

سورپوښ کنکارد تا اورسېدل او د رسېدو سره سم ډز ډوز شورو شو. غرمه مهال پوځ بوستن تا بېرتا را روان شو او په ټوله لار پرې کالونګرو د ډېوالونو او اونو شا نه ډزې کولې. د کنکارد نه بوستن تا رارسېدو پورې سورپوښو دوه اویا سرتیري د لاسه ورکړل او یوکم پنځوس انقلابیانو سرونه اوشندل.

ددې نښتې اوازې په ګرده نړۍ کې خورې شوې. دې پېښې سره ورغښي کالونګر د ځواب ورکولو سوخت واغستل. د مې په میاشت کې د ورمونت نه درې اتیا کالونګر د چامپلېلن په اوبو واوښتل او د تیکاندروګا کلا او کراون چوکی یې رااونیوله. په جون کې سورپوښو انقلابیان په شا اوتښتول او د بوستن سره خوا کې د بریذ غرونو تا یې اورسول. دا غرونه د بنکرز غرونو سره نزدې پراته و. دې تا د بنکرز جنګ نوم ورکړی شو.

په دې دوران کې وښیه د مې په میاشت کې فلادلفیا کې د کانګرس یوه بله غونډه اوشوه چې په دویم کانګرس سره یاده شوه. کانګرس د کالونو خپل د وچې او سمندري پوځ جوړول اعلان کړل او جارج واشنګتن یې کماندر اوټاکلو. دې پوځ تا د کانټیننټل پوځ نوم ورکړی شو. کانګرس هندیانو سره د اړیکو اختیار په خپل لاس کې واغستو او اروپاي هېوادونو تا یې خپل استازي اولېږل. د جولاي په میاشت کې کانګرس باچا جارج دریم سره د روغې جوړې هڅه اوکړه خو د روغې

Download from: aghalibrary.com

جوړې پر ځای باچا په ۲۳ اګست ۱۷۷۵ کې دا اعلان اوکړو چې بغاوت روان دی، دا به د منځه اوړل وي او غداران به محاکمه کول وي.

کالونګرو د ځان دپاره د دیارلسو پېتو بې ستورو بیرغ اورغولو. په جنډه باندې د ستورو نه اچولو مانا دا وه چې کالونګر د پلارنې هېواد سره څه تړلګرې نه غواړې او بله دا چې د برتانیا سامراجي نښان یونین جېک باندې ستوري جوړ و. په دې وختونو کې د کالونو خلکو د تهام پېنې لیکلې شوی کتاب - تولیزه پوهه – لوستل شورو کړو. په دې کتاب کې لیکوال د خپلواکې او ازادی په اهمیت رڼش یا بحث کړی و. په جنوري ۱۷۸۴ کې جارج واشنګټن د کانتینېنټل پوځ په خوړیزه کې د باچا جارج دریم په نوم جام مې پورته نه کړو.

په کال ۱۷۷۶ کې د جولاي په څلورمه نېټه کانګرس د خپلواکۍ اعلان یا څرګندونه اوکړه. د دې اعلامیې ژبه د لبرل دود مطابق وه چې د برتانوي ایین د ازادئ د ارونو خمازي یې کوله. خو په دې آیین کې هاغه برخه اند بېنمنه وه کومه چې روښانده عیسایانو د یونان د لرغونه فیلاسوب پیساغورس د لیکنو نه اخځ کړې وه. اعلامیه مخکې لیکي –

*مونږه د هاغه رښتیاو متنوکې یاست کوم چې پخپله په خپل ځان ګویانه دي، دا چې هرانسان یو برابر پېدا کېږي او دده څښتن دی د خپلواکه او خوشاله ژوند تېرولو ابدي رښتو په پسولو پوښلی رالېږي.....*

.په اعلامیه کې دداسې مترقي او روښانده اندونو سرخیل تهامس جېفرسن و.

## ویشانده پالوالی او وینخړ

ددې اعلامیې د خپرېدو سره د لندن وتلي لیکوال سماول جانسن په دې باندې کک تکونه اوکړل. هغه اووې چې دا څنګ کېدی شي چې غلامبه تهامس جېفرسن او جارج واشنګټن د تاج برتانیا د مرضی خلاف د خپلواکی څرګندونه اوکي. دا خو غلامګر دي او د دویی کسب د توریوستو باپارکول دي. خو د دویی غوندې نور هم ډېر په کالونو کې غلامبه و څوک چې د باچا جارج دریم پالوال- وفادار و. او د ټولو نه ورتېر پالوال د باچا هاغه ګورنران او والیان و کوم چې کالونو کې د باچا له اړخه ګومارل شوي و او هاغه کارمندان هم کومو چې د والیانو د لاندې د کالونو چارې سمبالولې. د چرچ کارندان هم د وروستې بریده پورې د باچا پالوال و. ډېر شتمن باپاریان او ځنې تولیزه کرګر او دوکانداران هم .

سمندر تا څېرمه سیمو کې د انقلابیانو ډېر زور و ځکه چې دا تجارتي ښارونه و او انقلابي غورځنګ هم ددغه تجارتي مسلو نه سر وهلی و. د ابادئ کومې برخې چې سرحدونو سره خوا کې په غرونو کې پرتې وې هلته د اوښتونوالو زور دومره ډېر نه و. د باچا پالوال او پلویان په هاغه سیمو کې زیات و چرته چې دویی تا د سورپوښو یا سرکاري پوځ تحفظ حاصل و. نیویارک په پورا توګه د سورپوښو په ولکه کې و خو په کنک تیکت، ماساچوست او ورجینیا کې پالوال کمزوري و.

کالونی ورو ورو د باچا د لاسو نه په وتو وې او د انقلابیانو زور مخ په زیاتېدو و. د سپین پوستو د ابادئ په سلو کې لس د باچا کلک ملاتړ و او په سلو کې څلوېښت سرماتي اوښتونوال و. د ابادئ پاتې نیمه برخه بې پلوه خلک و چې په دویی کې تبلیغیان، د پراګ او هالېند پروتستنت عیسایان شامل و. تبلیغیان د هر ډول خونخړ او تشدد بلوده-خلاف و او دا یې انګېرله که چرې د باچا واکمني د منځه لاړه نو کېدی شي چې مزهبي ازادئ هم پاتې نشي. څوک چې د باچا پلویان و هغوئ به د سورپوښو سره د انقلابیانو پرزد جنګېدل. خو دا خلک په شمېر کې لږ و او د باچا پوځ د سرو د کمښت ستونزې سره مخامخ و. ددې کمښت د پوره کولو دپاره سرخ پوشو توریوستو سره د ازادئ ژمنه اوکړه که چرې دویی سرکاري پوځ کې ګډون اوکې. ددې څرګندونې په غبرګون کې څه دېرش زره غلامان د خپلو مالېکانو نه اوتښتېدل او پوځ کې شامل شو. په کال ۱۷۸۱ د ورجینیا جنګ په دوران کې نزدې څلورمه برخه غلامان د جنوبي کېرولینا او جارجیا نه اوتښتېدل. په دغه ټولو تښتېدلو غلامانو کې څه لس زره سرکاري پوځ کې شامل شو.

د سرخ پوشو غوندي انقلابيان هم د سرېځواک د کمښت سره مخامخ و. په تورپوستو کې پنځه زره وګړي د اوښتونوالو وسله وال ملګري و. ددې اړې ګړي وخت کې ګڼ شمېر تس نس شول او ډېرو پکې خپلواکي ترلاسه کړه. د غلامانو يوه برخه د منځني اتلانتک سيمې تا لاړه او هلته يې په سمندري بېړيو کې کار اوموندو.

د باچا پالواله او وفاداره خلکو به د انقلابيانو پرزد ځارنګري- جاسوسي کوله خو کله چې به پوځ بېرته لاړو نو انقلابيانو به دغه ځارګري دل غوبل کړل. د پالوالو کورونه، کښتونه به يې سوزول او جايدادونه به يې ورله تروړل – ضبط ول. انقلابيانو به دويی سپک پربوتی خلک بوللو. خو چې کله به سرخ پوش راغلل نو انقلابيان به يې ټکو ستری کړل او ځنې وخت به يې پهانسي هم کړل. دغسې عمل به انقلابيانو د پالوالو سره هم کولو او دا چې ځنې وخت به يې تورپوستې هم تېزندي کول څوک چې سرخ پوش و.

## د انقلاب برياليتوب

د انقلابي جنګ په وړومبو وختونو کې د انګلستان د سر دښمن فرانس په سرکاري او ښکاره توګه بې پلو و خو پټ په پټه به يې انقلابيانو تا وسلې او بارود ورکول. په کال ۱۷۷۷ کې فرانسي رضاکارو په ښکاره توګه د انقلابي ډلو ملګرتيا شورو کړه.

په دې وخت کې د انګلستان يو بل زوړ دښمن اسپانيا د جبرالتر- جبل الطارق د واپس اغستلو غوښتنه اوکړه (دا ځای اوس هم د برتانوي واک لاندې دی) خو چې برتانوي سرکار انکار اوکړو نو اسپانيا په کال ۱۷۷۹ کې د جنګ اعلان اوکړو. په ۱۷۸۰ کې فرانس د جنګ اعلان اوکړو او غوښتل يې چې د اوويو کلن جنګ زيانونه راسر کړي. دريم دښمن المان هم د فرانس او اسپانيا سره د انګلستان پرزد ملګری شو. جرمنيان د وړومبی ورځې نه په کالونو کې د انګلستان خلاف د انقلاب پلويان و. کله چې د ملتپاله سمندري ځواک کماندر جان پال جونز المان تا پنا راوړه نو خلکو يې تود هرکلی اوکړو.

دا ښکاره خبره ده چې که دا جنګ سرخ پوشو ګټلی وې نو نه د واشنګټن سر تا خېر و او نه به نور انقلابيان ژوندي پاتې شوي و. خو د سرخ پوشو دپاره دا جنګ ګټل اسان نه و ځکه چې پلارنې هېواد ډېر لرې و او په پېغام تلو راتلو کې به اونۍ او کله کله مياشتې لګېدې. په ۱۹ اکتوبر کال ۱۷۸۱ کې واشنګټن او د هغه پوځ د شپږو زرو فرانسي پوځ او سمندري ځواک سره د ورجينيا په يارک ټاون کې د سرخ پوشو سمندري ځواک سرېندر کړو چې مشري يې لارډ کان والس کوله.

په ۱۷۸۲ کې په پارس کې د جنګ بندۍ دپاره خبرې اترې پېل شوې. فروري ۱۷۸۳ کې باچا جارج دريم د دښمنۍ د ختمولو ورمند- حکم اوکړو. او په ۳ ستمبر ۱۷۸۳ کې په پارس کې تړون لاس ليک شو. ددې تړون له مخه متحده ايالات امريکا يو خپلواکه دولت اومنلی شو او د ددې نوي رياست لوېديزه پوله يې د مسيسي پي سيند سره کېخوده او فلوراده يې اسپانيا تا ورکړه. په دسمبر کې جارج واشنګټن د کمان نه ځان ګوښه کړو او خپل کور ورجينيا تا راغی. کانتينېنټل کانګرس په ۱۴ فروري ۱۷۸۴ ددې تړون باوری اوکړو.

د ۱۷۷۵ او ۱۷۸۴ تر منځه نزدې يو لک پالوال اوتښتېدل. په دې تښتېدلو خلکو کې نزدې اتيازره هاغه خلک و څوک چې د انګلستان چرج سره تړلي و. په دې کې زياتره پالوال کناډا تا اوتښتېدل او يوه برخه خلک سره د خپلو غلامانو بهاماس تا لاړل. زرو تورپوسته پالوالو د انګلستان په افريکاي کالونی سارالون کې پنا واغسته.

د جنګ په دوران کې اوويو زره دوه سوه کالونګر په جنګ کې مړه شول. اتنيم زره برتانوي جيلونو کې او لس زره د لوږې تندې او خراب موسم له وجې مړه شول. د انقلاب په دې بهير کې ۲۵۷۰۰ کالونګرو خپل سرونه ورکړل. د امريکا د نن ابادۍ په حساب سره دا شمېره د دېرشو لکو برابر ده.

## آيين او بغاوت

ماساچوست رياست ټولو نه وړومبی باغيانه آيين اورغولو، ۱۷۷۵، او ورپسي نورو کالونو هم دغسي اوکړل. دا سرتوري يا دستورونه د خپلواکۍ اعلامي د ارونو په رڼا کي کښلي شوي و په کوم کې چې ټلګرۍ يا کنفېډرېشن تا لار هواره کړی شوې وه. وروستو بيا دا ټلګري د امريکا متحده ايالاتو په نوم ياده شوه.

اوېجاي- کانتينتل کانګرس د ټلګرۍ مدونه په کال ۷۶-۱۷۷۵ کې د آيين برخه اوګرزول. کانګرس د آيين په دې مدونو کې دا وړانديز ورکړو چې د ټلګرۍ ټول رياستونه به په بشپړه توګه خپلواکه وي او د هر رياست به ځانله خپل آيين وي. کانګرس دا تجويز هم اوکړو چې د هر رياست به يو رای - ووټ - وي او تناسب سره به مرکز تا باج – ټېکس ورکوي. د جنګ کولو، پور اغستلو او ورکولو اختيار به هم مرکز سره وي. مرکز دا وړانديز هم اوکړو چې د کانګرس د آيينې مدونو باوري په رياستونو باندې اړين دی او دغسې ټولو ديارلسو رياستونو د جنګ په اخري کال ۱۷۸۱ کې د کانګرس د آيينې وړانديزونو پوختيا اوکړه.

د ۱۷۸۳ امن تړون د خلکو دپاره د خوشالو او هيلو ستره وسيله وه خو دې پسې سم د لاسه کړاونده وتيزو حالاتو سر اووهلو او خلک د سختو کړکېچنو وختونو سره مخامخ شول. په دغه کلونو کې به په ګرانه د ګانګرس د غونډو کورم پوره کېدو. ددې اکر له مخه دا پرېکړه اوشوه چې کانګرس به ښار په ښار خپلې ناستې کوي. په جون ۱۷۸۳ کې وړومبی ناسته په پرنستن، په نومبر کې په اناپولس، د کال ۱۷۸۴ په اوله کې په ترېنتن او ددغه کال په اخر کې په نيويارک ښار کې اوشوه. په دې دوران کې کانګرس د پېسو د کمبود سره مخامخ شو. ددې کمښت پوره کولو دپاره کانګرس په سرحدونو د سرکاري ځمکو خرڅولو پرېکړه اوکړه.

د وتيز او رزمنيز کړکېچ سره نورې اند ښنني هم رامنځته شوې. ددې کرکېچ نه د وتو دپاره سياسي پوه، همت او سخت زيار اړين ترونه و. ددې حالاتو له مخه الېګزاندر هملټن په کال ۱۷۸۵ کې د مخينه پالوالو د سياسي او تولواله رښتو پر ځای کولو هڅه اوکړه او د بدل اغستو تګلاري پرزد يې مبارزه اوکړه. په باپار او تجارت کې دغه مخينه پالوالو ډېره تجربه درلوده او د دغه تجربونه ګټه پورته کول د رياستونو د ګټې وتې په ښېګړه کې و. د هملټن ددې هڅو په رڼا کې رياستونو په کال ۱۷۸۷ دغه د پالوالو پرزد قانون سرچپه کړو.

د پلارني هېواد او د مخينه کالونو پالوالو پوروړو د نسيا ښېرته ادا کولو غوښتنه کوله کوم پور چې د وتيزې بدحالی په وخت دغو خلکو رياستونو تا ورکړی و. په ۸۶-۱۷۸۵ کې دغو پووړو د نسيا د ژغورني دپاره د قانون رغوني غوښتنه اوکړه. د ماساچوست په رياست کې د نسيا د ژغورني څه قانون نه و او پوروړي د خپلو پېسو د ډوبېدو غم اوړي و. د دې اند ښنو له کبله د کال ۱۷۸۶ په پايله کې وسله وال بغاوت اوشو چې ډېر زر په ټول نيو انګلېنډ کې خور شو. دې بغاوت تا د څو زره خلکو مرسته حاصله وه چې زياتره کرګر و. ددې په ځواب کې د ماساچوست ګورنر د سرکاري ادارو او املاک ساتلو او بغاوت ماتولو دپاره ملېشا راغونډه کړه. بغاوت په شپږ مياشتو کې ختم کړی شو. ياغيان خواره واره شول او بيا وروستو اوبښلي شول. د سرغړاندو دوه مشران جان بلاي او چارلس روز پهانسي کړی شول.

## د متحده ايالاتو آيين رغونه

د بغاوت په ترس کې د ټلګرۍ په اړه مدونو باندې بيا غور کولو دپاره مرکزي آيين سازه کانګره رااوبللې شوه. د کانګرې ګډون وال سوړبازاری او د ټولني ناډاډمنو حالاتو اند ښمن کړي و او په دې لټه کې و چې اقتصادي اکر زر تر زره بحال شي. ځني ګډون والو د ځواکمن مرکز وړانديزونه وړاندې کړل ددې دپاره چې ټولنه کرار او ارامی اوموميي.

په دې وختونو کې ځای په ځای د سرکار پرزد د انقلاب رااوستو خبرې هم شورو شوې او د سکولونو او کالجونو هلکانو تر منځه سرغړونو هم سر اووهلو. دا پلپوټ يا شکايت ټوليز يا عام و چې هند يان او غلامان د خپلو مالکانو درناوی نه کوي او نه يې خبره اوري.

د امریکا سیاسي مشران د تاریخ زده کوونکي، د لیدو او ازمایښت (مشاهدات و تجروبات) منونکي و او دا ګروهه یې لرله چې د دانایی ستره وسیله ازماینه ده او دا د انسان د لارښوني دپاره یو باوري درس دی.

په کانګره کې جارج واشنګټن سره د خپلو ملګرو د ورجینیا له اړخه شرکت اوکړو او هم په یوون سره د کانګرې مشر اوټاکلی شو او دغسې د غوندې کارکړن یا کاروایی تا درناوی ورکړی شو. تر څلورو میاشتو پورې ګډون والو سکالوه اوکړه او دا بحث د مرکز نه تر ریاستونو پورې خور شو. د میاشتو میاشتو د بحثونو بیا بحثونو ، دلیلونو او ځوابي دلیلونو په نتیجه کې اخر په ۱۷ ستمبر ۱۷۸۷ یوونی لاسوند تیارشو او د ټلګری یا کنفېدرېشن مدونه بدل کړی شول.

د نوي آیین له مخه مرکزي سرکار تا د کورني او بهراني تجارت سمبالو، باج لګولو او مرکزي قوانینو لاګو کولو اختیار ورکړی شو. او دا اختیار هم ورکړی شو چې د ریاستونو د استازو، سناتورانو او کانګرس ممبرانو جوړولو دپاره دوی رغونه یا قانون سازي اوکي. د آیین له مخه د ملک سستم صدارتي اوګرزولی شو او صدر د ملک ستر واکمن جوړ کړی شو او دغسې متحده ایالات د آییني باچاهت پر ځای ولسواله یا رېپبلک اوګرزولی شو. د کانګرې د ګډون والو دا خیال و چې آییني یا تش په نوم باچاهت د نادرلېند او سوازرلېند غوندې واړو هېوادونو دپاره وړند دی. خو دې خیال په راتلونکو وختونو کې یوه جنجالنه بنه خپله کړه.

د کانګرې ګډون والو د جان لاک د لیکني - سرکار دوه ژمني – په رڼا کې د سرکار د بېلو بېلو څانګو تر منځه د اختیاراتو وېش په بابله قانون سازه اداره ، عد لیه او انتظامیه اورغول. د اختیاراتو ددې وېش له مخه به هره یو اداره د پاتې دواړو ادارو د اختیاراتو د تجاوز مخ نیوی کوي. هم دغسې دا اداري به په دې باندې هم نظر ساتي چې ددې ادارو کوم وګړی زیات اختیارات تر لاسه نه کړي. په اریزه توګه د اختیاراتو د وېش دا خیال د لرغونه روم نه اغستی شوی و. د جان لاک نه سربېره د فرانس رڼانده بارن چارلس ۱۷۵۵-۱۴۸۹ هم دا الواک وړاندې کړی و.

د آیین سازو په دماغو باندې د امن و امان او بغاوت مسله هم سپره وه او ددې د مخنیوي دپاره هم کوټلي ګامونه پورتا کول اړین و. د آیین له مخه مرکزي سرکار تا د پوځ د سمبالولو واک - اختیار ورکړی شو چې د اړتیا په وخت به ریاستونو تا لېږلی شي. مرکز تا دا اختیار هم ورکړی شو چې بې له څه وجې ښودلو څوک بندي کولی شي.

د نوي آیین له مخه مرکزی سرکار تا بې له ریاستونو د منظوری نه د ګڼو اقداماتو کولو اختیار ورکړی شو. مرکز د ریاستونو نه د جنګ او ژمنو – معاهدو کولو اختیار واغستو. دغسې مرکز تا د سرکاري ځمکو خرڅولو اختیار هم ورکړی شو او دا چې مرکزي سپریم کورت به د ریاستونو د سپریم کورت د پاسه اداره وي.

نوي آیین د ریاستونو نه د ګټې وټې، د دولت د وېش او مالییاتي اختیارات واغستل. د پور ورکولو او اغستو د دوې رغوني اختیار د ریاستونو نه هم واغستی شو. اوس ریاستونه نشي کولی چې کرنسي جوړه کړي، مالییاتي بل پاس کړي او یا څه تړون لاس لیک کړي. د آیین له مخه مرکز تا د تجارتي مفاداتو او د ازاد تجارت د پراختیا او پرمختګ دپاره د ګامونو پورتا کولو دپاره اوویلی شو.

د ډېرو آیین سازو دا خیال و چې د رای رښته یا حق د انګلستان غوندې یواځې د جایداد خاوندانو تا ورکول پکار دي. د دویی دا خیال و که د ووټ رښته ټولیزه غریبو خلکو تا ورکړی شي نو امکان لري چې دې سره د امن و امان مسلې راپېښې شي. د جایدادونو مالکان بېدار او هوښیار وي او بې وزله خلک لاپروا او نوو نوو تجربو کولو تا لېواله وي ځکه چې د څه بېلات یره ورسره نه وي. خو دا خبره ریاستونو تا پرېخودې شوه چې په سیاست کې د برخې اغستو دپاره یو وګړي سره څومره جایداد پکار دی.

بې جایداده سپن پوستو، ښځو او غلامانو تا د رای حق ور نه کړی شو. د خپلواکی په اعلامیه کې د انسان د ازادئ او برابرئ کومه خبره شوې وه هغه اوس هم د کانګرې د ګډون والو په ماز غو کې وه خو هغوئ په دې ګروهه و چې د

ورتیاو یا صلاحییتونو له مخه ټول انسانان یو برابر نه وي. ددې برابري مانا دا وه چې ټول انسانان د خدای او قانون په نظر کې یو برابر دي. د ځنې اوس هم دا خیال و چې سړي د ښځې نه او سپین د تور نه لوړ بامه دی.

## د آیین منښت

د آیین د منلو او نه منلو سکالوه د ټولو ریاستو په لارو کوڅو، ناستو، غونډو، خبرپاڼو او ورځپاڼو کې خوره شوه. د آیین منښتو تا به یې فېدرلست ویېلو. انتي فېدرلستو دا سوال راپورته کړو چې د ریاستونو استازو په آیین سازه کانګره کې له خپلو اختیاراتو بلوساک – تجاوز کړی دی او د کنفېدرېسن اختیارات یې فېډرېسن تا ورکړي دي. دا پلپوټ یې هم اوکړو چې د کانګرې ګډون وال د شتمنو کورنو خلک دي او دغسې خپلو مفاداتو یا ښېګړو تا یې لار پرانسته. ځنې پکې دا نیوکه هم اوکړه چې د ریاستونو پر ځای مرکز تا زیات اختیارات ورکړی شول. دا خبره پکې هم اوشوه چې د مرکز دپاره د دومره پراخه هېواد سمبالښت ممکن نه دي. او دې انتي فېدرلستو دا غټه خبره هم په ګوته کړه چې په نوي آیین کې د ربښتو د بل یادونه هم نه ده شوې.

فېدرلستان راپورته شول او خلک یې په دې اماده کړل که چرې دا آیین اونه منلی شي نو ملک به د لوی اړي ګړي سره مخامخ شي. دویی دا شکایت یا پلپوټ اوکړو چې د ریاستونو ځاي مشران لنډ لیدي او د ریاستونو د خلکو د اغېزې لاندې دي. الېګزاندر هملتن، جیمز ماداسن او جان جی په ورځپاڼو کې پنځه اتیا مضامین اولیکل چې وروستو کتابي بڼه ورکړی شوه، دي فېدرلست.

فېدرلستانو بری اوموندو او اوس ریاستونو له د آیین منلو دپاره رای ورکول و. د ۲۱ جون ۱۷۸۸ نه تر ۲۶ جون ۱۷۸۸ پورې ټولو ریاستونو آیین اومنلو خو جنوبي کېرولینا او د روهډ ټاپو څه رای ور نه کړه.

د ریاستونو استازي په پلازمینه نیویارک کې راغونډ شول. د دوه کوریزه پارلیمان د دواړو کورونو کورم پوره کړی شو او د صدارت دپاره رای ورکړی شوه. په ۶ اپریل ۱۷۸۹ جارج واشنګټن تا یوکم اویا رای ورکړې شوې او دغسې واشنګټن یوون سره د یو-ایس-ای صدر اوټاکلی شو. په ۳۰ اپریل ۱۷۸۹ جارج واشنګټن پارلیمان تا په خپله وړومبی وېنا کې په آیین کې د حقوقو – ربښتو د بل د شاملولو غوښتنه اوکړه.

## د ربښتو بل او ترمیم

۲۵ ستمبر ۱۷۸۹ د متحده ایالاتو د کانګرس وړومبی غونډه اوشوه. په دې ناسته کې د ربښتو بل وړاندې کړی شو او د ریاستونو نه ددې بل د منلو غوښتنه اوشوه.

د کانګرس په دې اولنی ناسته کې د روښانده تهامس جېفرسن په ریاست ورجینیا کې د اینګلیکن چرچ یو ستره ستونزه رامینځته شوه. د ورجینیا ریاست به هاغه تبلیغیان بندي کول چا چې به د ریاست د اجازت نه بغېر تبلیغ کولو. جیفرسن سره ددې چې د بنسټګری سخت خلاف و خو بیا هم دویی تا د تبلیغ کولو اجازت ورکولو باندې راضي شو. دا ډېره پېچلې او جنجالنه ستونزه وه او هواری یې اړین و. په دې سکالو یا موضوع باندې د تهامس جېفرسن، پټرک هنري او نورو انقلابیانو تر مینځه توده بحثونه اوشول او اخر دا مسله د روښانده تهامس جېفرسن د اندونو په رڼا کې اومنلې شوه. په دې مسله باندې د ریاستونو او مرکز ترمینځه څه لږ ډېر تېروبېر پاتې شو خو دا فېصله اوشو چې د کانګرس په راتلونکې ناسته کې به په دې باندې نور غور کولی شي.

د کانګرس ددې غونډې په ناسته کې لاندیني ترامیم اوشو:

۱.....کانګرس به د مزهب په بابله د هيڅ ډول قانون سازي نه کوي او نه به په تبليغ څه پابندي لګوي. نه به څوک د وېنا کولو بې برخي کوي او نه به په پريس باندې څه بندېز لګوي. د خلکو په پرامن غونډه به څه بندېز نه وي او هرچاتا دا حق حاصل دی چي د خپلو زيانو په بابله د سرکار نه پوښتنه اوکي.

۲.....د رياست د دفاغ او ساتني دپاره منظم پوځ اړين دی او ځان سره وسله ساتل د هروګړي رښته ده.

۳.....هيڅ يو سرتيری دا رښته نه لري چي د امن په وخت د چا کور کي مېشته اوکي او نه د جنګ په دوران کي د چا کور کي پاتي شي ماسوای چي څه قانون واي.

۴.....خلک د خپلو ځانونو، مالونو، کورونو او لاسوندونو بغېر د څه وړ لامله د نه لټولو او نيولو رښته لري، او د نيولو حکم دپاره پياوړي زبات اړين دی او د هاغه چا او هاغه ځای نومونه اړينه ده.

۵....دهيچا نه به د هغه د دولت په بابله پوښتنه نشي کولی، هله که څه سنګين جرم يې مل نه وي، او يا که چرې عدالت داسي اوغواړي، که چرې د پوځ سره اړه نه لري، کله چي نوکري کوي او د جنګ په حالت کي وي او يا د خلکو ژوند د غوشک سره مخامخ وي: نه به څوک د يو جرم په بدل کي دوه واری ددا‌سي حالاتو سره مخامخ کولی شي چي د هغې نه د هغه ژوند يا د بدن يوه برخه اغېزمنه کېږي او نه به څوک دې تا اړباسل وي چي د خپل ځان خلاف ګواهي اوکي او نه به د ژوند، ازادی او جايداد نه بې برخي کولی شي بې د څه لازمي قانوني عمل نه او نه به ولسي جايداد د سرکار دپاره بغېر د مناسبې معاوضې اغستلی کېږي.

۶.....په ټولو فوجداري مقد مو کي هر سړی د چاخ او ښکاره ټرايل حق لري او دا ترايل به هاغه سيمه کي کېږي چرته چي جرم شوی وي.ملزم به د جرم د نوعيت نه خبرولی شي. د ترايل پر وخت به د ملزم د جرم زباتولو دپاره ګواهان تېرولی شي او ملزم هم دا حق لري چي په خپله دفاع کي ګواهان او وکيل پېښ کړي.

۷....په کومو ديواني مقد مونو کي چي د ناندريز – متنازعه جايداد ملکيت د شلو ډالرو نه زيات وي، ددې ترايل به جوري يا لاندې عدالتونه کوي او که د جوري پرېکړه نيمګړې وي نو برا عدالتونه به پرې غور کوي.

۸....د سېوا ضمانت (زرضمانت)، سېوا جرماني او سېوا سزا به هرګز اجازت نه وي.

۹....کوم حقوق چي په آيين کي بيان شوي دي، د انکار وړ نه دي او نه به پکي د خلکو د مرضی خلاف رد و بدل کولی شي.

۱۰....د آيين له مخه کوم اختيارات چي مرکز تا نه دي ورکړی شوې او نه رياستونو تا د ورکولو مخه نيولي شوې ده، داسي اختيارات به د مزکز سره وي او يا د خلکو سره.

په آيين کي د رښتو د بل شاملولو سره جنوبي کېرولينا د مرکزي آيين باوری اوکړو. نيو جرسي په ۲۰ نومبر ۱۷۸۹ آيين لاس ليک کړو او دغسي ټولو رياستونو سره د روهد ټاپو د آيين منښت اوکړو.

********

اخځ

مېکرو رپورت

ورلډ هسټري